څوک چې له مهربانۍ کولو بې برخې شو؛ نو ګوا کې له (هر ډول) خیر څخه محروم شو

جرير رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي: "څوک چې له مهربانۍ کولو بې برخې شو؛ نو ګوا کې له (هر ډول) خیر څخه محروم شو".

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې څوک له مهربانۍ څخه بې برخې شو، هېڅکله به په ديني او دنيوي چارو کې بريالی نه شي او نه په هغه څه کې چې د ځان لپاره يې کوي او يا يې له نورو سره کوي، نو يقينا چې له ټولو ښېګڼو څخه محروم شو.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4939